سازمان انقلابی افغانستان


۰۹ دسمبر ۲۰۱۱

## له تاریخ سره خبرې اترې

## له کارل مارکس سره د «شیکاګو» ورځپاڼې خبرې

## ژباړه: د افغانستان انقلابي سازمان



د لندن په شمال لویدیځ کې د «هاوراستوک هیل» په یوه کوچني کور کې، د مدرن سوسیالیزم بنسټ ایښودنکی کارل مارکس ژوند کوي. هغه په ۱۸۴۴ کال کې د انقلابي تئوریګانو د تبلیغ لپاره د خپل هیواد ـ آلمان ـ څخه تبعید شو. په ۱۸۸۴ کې بیرته آلمان ته راستون شو، خو له څو میاشتو وروسته بیا تبعید شو. په پاریس کې هستوګن شو، خو د هغه انقلابي تئوریګانې لامل شوې چې په ۱۸۴۹ کې له دغه ښار څخه تبعید شي. د دغې کال وروسته د هغه مرکزي دفتر په لندن کې خلاص شوی دی. پر خپلو اعتقاداتو باورتیا له همغې لومړي څخه ورته مزاحمتونه رامنځته کړي دي.د کور له شکل څخه یې ښکاري چې دې اعتقاداتو ورته مطمئناً هوساینه نه ده ورپه برخه کړې.

مطمئناً هغه په دې کلونو کې په ټول جدیت سره ځان د خپلو اندونو لپاره (چې بې له شکه همدې اندونو ته د ژورې عقیدې څخه سرچینه اخلي) وقف کړی دی او که څه هم مونږ د هغوی تبلیغات بی اهمیته گڼو، خو نشو کولای د هغه چا لپاره چې اوس یو گرانقدره تبعیدي دی او ځان یې د خپلو اعتقاداتو لپاره وقف کړی، درناوی ونلرو.

هر ځل مې چې له ډاکتر سره په کتابتون کې لیدلي دي، په یو لاس کې کتاب او په بل لاس کې سگریټ وو. هغه باید څه باندې اویا کاله عمر ولري (مارکس دغه وخت شپیته کلن وو). د بدن فیزیک یې کش شوی او چاق دی. هغه د روښانفکري یو مخور او د یو اندمند یهودي سمبول دی. ږیره او ویښته یې ډیر او خړ دي. د سترگو رنگ یې د ډکو وریځو تر شا تور ځرک وهي. د یوه پردي په مقابل کې بی اندازه محتاطه دی. یو بهرني په کلي توگه کولای شي د هغه د لیدنې مجوز واخلي، خو آلماني میرمن «هلن دمورت» ته چې د ملاقاتونو د تنظیمولو مسووله ده، دستور ورکړی شوی چې هیڅ چا ته د ملاقات اجازه ورنکړي؛ مگر دا چې معرفي پاڼه له ځان سره راوړي. کله چې یې کتابتون ته ننوځم، هغه خپله یوه سترگیزه عینکه د سترگې تر څنډې ساتي، څو ستاسو د روښاندي ژورتیا وارزوي او وروسته له هغه خبرې وکړي. له خبرو وروسته دی چې د دې سړي پوهه ستاسو په مقابل کې راڅرگندیږي.

د هغه د مکالمې غږ یوډوله نه دی، بلکې د هغه د کتابتون د رفونو د شمیر په اندازه متغیره دی. اغلباً یو انسان د هغو کتابونو له مخې پیژندلی شوو چې یې لولي. کله چې ووایم ما د دې سړي په کتابتون کې د شکسپیر، ډیکنز، مولیر، بیکن، گوته، ولتر، پین آثار او له انگلستان، امریکا، فرانسي څخه کتابونه، د روسیه، آلمان، اسپانیا، ایتالیا او ... سیاسي ـ فلسفي آثار ولیدل، نو کولای شی په خپله د دې سړي په اړه نتیجې ته ورسیږی. له هغه سره د خبرو پر مهال مې د امریکا په اړه د پوښتنو په ترڅ کې چې په تیرو شلو کلونو کې ځانگړی ځای درلودلی دی، د دې هیواد په اړه د هغه له پوهې څخه مې ټکان وخوړ. د امریکا د پیښو په اړه د هغه پوهه او زمونږ د ملي او ایالاتي قانون جوړونې په اړه د هغه له نیوکې سره مل د اند حیرتیا، زه ډیر زیات تر اغیزې لاندې راوستم؛ په داسې ډول چې احساس مې وکړی چې هغه باید دا اطلاعات د کورنیو سرچینو څخه تر لاسه کړي وي. خو په رښتیا د هغه پوه یوازې امریکا پورې محدوده نه ده، بلکې ټوله اروپا رانغاړي. کله چې له سرکرمي ـ سوسیالیزم ـ خبرې کیږي، هغو ملوډراماتیکو خیالونو ته چې معمولاً ده ته یې اړوند گڼي، پناه نه وړي؛ خو د خپلو اتوپیایي طرحو په اړه چې «د بشري توکم خلاصون» دی په داسې جاذبې او جدیت خبرې کوي که په دې پیړی کې نه، لږ تر لږه په راتونکی پیړی کې د هغه د تئوري گانو پر واقع گرایي دلالت کوي.

شاید ډاکتر کارل مارکس په امریکا کې د «کپیټال» د لیکوال او د «انټرناسیونال ټولنې» د بنسټ اینښودونکي په توگه وپیژني. هغه مرکه چې لاندې راځي، تاسو ویني چې هغه د خپلې اوسنې «ټولنې» څخه خبرې کوي.

تر هغه چې له کارل مارکس سره مې ملاقات پیل کیده، ځان مې د «بانکرانت دیویس» د ۱۸۷۷ کال د رسمي گزارش د «پلټ فورم» سره بوخت کړ، چې زما په اند هغه روښانه او هر اړخیزه سوسیالیستي بیان دی چې ما تر اوسه لیدل دی. مارکس راته وویل چې دا گزارش یې په ۱۸۷۵ کال کې په آلمان کې د گوته سوسیالیستانو د مجمعې له گزارش څخه تر لاسه کړی دی. د هغه په وینا د دې گزارش ژباړه غلطه شوی او هغه سمه کړی ده، چې زه یې تصحیح شوی متن راوړم.

۱ ـ د ښاروالی او د دولت په گډون د ټولو ټاکنو لپاره د هغو کسانو لپاره چې عمر یې له شلو کالو پورته دی د مستقیمې، پټې او نړیوالې رایې حق؛

۲ ـ د خلکو لخوا په مستقیمه توگه قانون جوړونه، د خلکو د مستقیمې رایې په وسیله جگړه او سوله ؛

۳ ـ د زیرمه شوي پوځ لغوه کیدنه؛

۴ ـ د عمومي اجتماع او د مطبوعاتو د قوانینو په اړه د ټولو ځانګړو مقررو او قوانینو الغا؛

۵ ـ نړیواله روغتیا؛

۶ ـ عمومي او وړیا زده کړه، د علم او مذهب آزادي؛

۷ ـ د ټولو نامستقیمو مالیو حذفول، د دولت او د ښاروالی لګښتونه دې پر مستقیمو او پرمختللو عوایدو د مالیی له لارې تامین کړای شي؛

۸ ـ د کارګرو طبقو تر منځ د مشارکت آزادي؛

۹ ـ د کار د قانوني ورځې تعریف. د ښځو محدوده کار او د ماشومان کار لغوه کیدل؛

۱۰ ـ دکارګرانو د روغتیا او د ژوندانه د ملاتړ لپاره روغتیایي قوانین؛

۱۱ ـ په زندان کې د کار لپاره وړ مقررات؛

د «بانکرانت دیویس» په رپوټ کې دولسمه ماده چې زما په اند د هغه تر ټولو مهمه برخه وه، راغلی وه: «په دموکراتیک ډول صنعتي ټولنو سره د دولت او د پور مرسته.» ما له ډاکتر کارل مارکس نه تپوس وکړ، ولې هغه دا ماده لیرې کړی ده، هغه ځواب راکړ: کله چې په ۱۸۷۵ کال کې په ګوته کې اتحادیه جوړه شوه، د سوسیال دموکراتانو دوه اړخیتوب شتون درلود. یوه ډله د «لازاله» پلویان وو او بلې ډلې په ټولیزه توګه د «بین الملل» سازمان کړنلاره منلې وه چې «آیزانخ» ګوند ونومول شو. دولسمه ماده په «پلټ فورم» کې نه وه، خو د انحصار غوښتونکو او د «لازاله» له پلویانو لخوا په سریزه کې ځای په ځای شوه. وروسته له هغې هیڅکله د هغې په اړه خبرې ونشوی. ښاغلی دیویس نه وایي چې دا ماده یې د یوې مصالحې په توګه چې کوم ځانګړی اهمیت یې هم نه درلود په کړنلاره کې ځای په ځای کړی دی. خو هغه یې د کړنلاې د مهمو اصولو په توګه درج کړ.

ـ ما وویل: خو سوسیالیستان په کلي توګه د ټولنې عمومي مالکیت ته د کار د ابزارو انتقال د غورځنګ اوج ویني.

ـ هو، مونږ وایو دا به د غورځنګ حاصل وي، خو دا وخت، ښووني او د لوړ ټولنیز موقعیت بنسټونو پورې تړاو لري.

ـ ما ورته وویل: دا پلټ فورم یوازې د آلمان او یو دوه نورو هیوادونو لپاره د کاروني وړ دی.

ـ هغه ځواب راکړ: اهه، که تاسو خپلې پایلې له دې څخه له بل شئي اخلی، نو (باید ووایم) چې تاسو د ګوند د فعالیت په اړه نه پوهیږی. د دې موادو ډیری برخه له آلمان څخه بهر اهمیت نه لري. اسپانیا، روسیه، انګلستان او امریکا د خپلو ستونزو سره سم پلټ فورم لري. د هغو تر منځ یوازینی ورته مورد، هغه موخه ده چې باید تر لاسه یې کړو.

ـ او هغه د کارګر واکمنتیا ده؟

ـ هغه د کارګر خلاصون دی.

ـ آیا اروپایي سوسیالیستان د امریکا غورځنګ ته د خورا جدي غورځنګ په توګه ګوري؟

ـ هو، هغه د هیواد د پراختیا طبیعي پیغام دی. ویل کیږي چې دا غورځنګ د بهرنیانو لخوا وارد کړای شوی دی. پنځوس کاله مخکې کله چې په انګلستان کې کارګري غورځنګونه بریا ته ونه رسیدل، همدا شیان ویل کیدل او دا له هغه وخت څخه دومره مخکې وو چې له سوسیالیزم کومه خبره وشي. په امریکا کې له ۱۸۵۷ کال څخه راپدیخوا دا یوازې کارګري غورځنګ دی چې تر سترګو کیږي. لومړی سوداګریزو اتحادیو وده وکړه، وروسته له هغې سوداګریزې ټولنې جوړې شوی چې په هغو کې د بیلابیلو صنعتونو کارګران سره متحد شول او بیا د ملي کار اتحادیې جوړې شوی. که تاسو د پرمختګ دا بهیر وارزوی، ګوری چې سوسیالیزم په هغه هیواد کې د بهرنیانو له

مرستي پرته رامنځته شوی دی او اساساً د هغې علت د پانګې تمرکز او د کارګرانو او اربابانو تر منځ بدلیدونکي اړیکي دي.

- و مې پوښتل: نو تر اوسه پورې سوسیالیزم څه کار تر سره کړی دی؟

- ځواب یې راکړ: دو شیان؛ سوسیالیستانو، د کار او پانګې تر منځ نړیوال غورځنګ او په یوه کلمه کې نړیواله فصل ښکاره کړ او ورپسې یې هڅه وکړه د بیلابیلو هیوادونو د کارګرانو تر منځ پوهه رامنځته کړي چې دا چاره کله چې پانګوالان د کاري ځواک په استخدام کې په لا نړیواله توګه چلند کوي او د بهرنیو ځواکونو څخه د ځایي کارګرانو په خلاف، نه یوازې په امریکا، بلکې په انګلستان، فرانسه او آلمان کې هم استفاده کوي، په هممهاله ډول ډیر اړین بریښي. نړیوالي اړیکي چې یو وخت د دریو بیلابیلو هیوادونو د کارګرانو تر منځ رامنځته شوی، ښکاره کړه چې سوسیالیزم اساساً یوه سیمه ایزه ستونزه نه ده، بلکې یوه نړیواله مسئله ده چې د کارګرانو د نړیوالو غبرګون سره حل کیدای شي. کارګرې طبقې هم مهاله حرکت کوي، بی له دې چې پوه شي د غورځنګ پای به څه وي. سوسیالیستان غورځنګ نه اختراع کوي، بلکې اساساً کارګرانو ته وایي چې د غورځنګ ځانګړنه څه ده او پای یې به څه وي.

- ما د هغه خبرې غوځې کړی او ومې پوښتل: د اوسني ټولنیز نظام د ړنګیدو په مانا به یې.

- هغه ادامه ورکړه: مونږ وایو چې د اربابانو په لاس کې دا د ځمکې او پانګې نظام له یوې خوا او د کارګرانو په لاس کې د توکو د پلورني لپاره دکار ځواک له بلې خوا، یو تاریخي پړاو دی چې تیریږي او یو لوړ ټولنیز شرایطو ته رسیږي. مونږ هر ځای یو ویشل شوی ټولنه وینو.

د دوو طبقو تضاد د مدرنو هیوادونو د صنعتي سرچینو د پراختیا سره یوځای مخې ته ځي. له سوسیالیستي پلوه د اوسني تاریخي پړاو د انقلابي کولو ابزار تقریباً موجود دي. په زیاتو هیوادونوکې د سوداګری اتحادیو لپاره، سیاسي سازمانونه جوړ شوي دي. په امریکا کې د یو خپلواک کارګري ګوند اړتیا جوته شوی ده. هغوی له دې نور زیات نشي کولای پر سیاستوالو ډاډه ووسي. ډلو او ټپلو د هغه ځای قانون جوړونه په لاس کې اخیستی دي او له سیاست څخه سوداګري جوړه شوی ده. خو امریکا په دې برخه کې یوازې نه ده، یوازې د هغه ځای خلک د اروپایانو په پرتله قاطع دي. هلته دروغ ویل او دوه مخي له دې ځای څخه کمه ده.

سرچینه: د «شیکاګو تربیون» ورځپانه، د ۱۸۷۹ د جولای پنځمه